مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان

۲۰۲۲/۰۸/۱۹

د افغانستان سیاسي استقلال د بېرته ترلاسه کولو یوسلودریمې کلیزه دې بختوره وي!

د استقلال اتل غازي امیر امان الله خان ته

زمونږ د آزادۍ بویه ضمیر امان الله
د ټول افغان په زړه کې ناست آمیر امان الله

را ویښ یې ولسونه کړل له خوب د آزادۍ
او چیغه چې کړه پورته د تکبیر امان الله

ښامار د استکبار چې و له نیمې نړۍ تاو
دا وویشت پر تندې باندې په تیر امان الله

ژوندون د معشوقې په شان په غېږ کې شو نیوای
مات کړی له لاسونو مو زنځیر امان الله

لیدلی شهیدانو وو یو خوب د آزادۍ
روښانه یې را ووتو تعبیر امان الله

باید دې چې ګلان شو پر مزار د لوی غازي
بدل په خوشحالۍ کړ زمونږ ویر امان الله

کاروان د مریدانو مستانه پسې روان
د مستې آزادۍ د لارې پیر امان الله

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ